**د ارزاقو امارتي‌شرکت چارې مخ په وده روانې دي!**

ارزاقو امارتي‌شرکت د خپلو بنسټيزو کړنلارو له مخې د هېواد په کچه دولتي او خصـــوصي ادارو لپاره د اړتيا وړ خوراکي توکو په برابرولو او لېږد کې بريالي گامونه اخيستي دي.

اوس مهال ارزاقو امارتي‌شرکت د خوراکي توکو د برابـرولو او لېـږد په بـرخه کې يو تخصـصي‌ـ او تجربه لرونکی بنســټ گرځېدلی دی، چې په پوره ژمنتيا سره اړين خوراکـي توکـي په وخت او لوړ کيفيت‌سره بـرابـروي او دولتـي او خصوصي ادارو ته يې رسوي.

همدارنگه دشرکت يوه بله ځانگړنه دا ده چې مجرب، تکړه او مســـــــلکي کادرونه په کـې خپلـې دندې پـر مخ وړي او هلـې ځلـې کوي، تـرڅو د غوره خدمتونو په وړاندې کولو سره هېوادوالو ته هوســـــا ژوند، د خوښـــــې وړ چاپيريال او د هېواد د پرمختگ لپاره کاري فرصتونه رامنځته کړي.

د يوې ادارې د پـــر مختگ لپاره زيار او هڅونـــې ته زياته اړتيا وي. په دې اړوند ارزاقو امارتي‌شرکت د هېواد شتمنو وگړو، ملي او سيمه ييزو سوداگرو ته بلنه ورکوي، ترڅو له دې‌شرکت‌سره د غير اســـاسي فعاليتونو په برخه کې پانگونې وکړي.

نو ډېـــــر ژر به ټول هېوادوال د ارزاقو امارتي‌شرکت د فعاليتونو او خدمتونو پايلې د افغانستان د پرمختگ او د ځانبسيايني په گټه عملاً ويني. انشاءالله

**ارزاقو امارتي‌شرکت؛ ولس ته يې منلی خدمت**

